## د اوکلاهوما افغان سوسایټي اساسنامه

✅ لومړۍ ماده: نوم

د دې سازمان نوم اوکلاهوما افغان سوسایټي (Oklahoma Afghan Society) دی چې په لنډ ډول ورته OAS ویل کېږي.

✅ دویمه ماده: هدف

دا ټولنه یوه غیر دولتي او غیر سیاسي اداره ده چې هدف یې دا دی:

1. په اوکلاهوما کې د افغان کورنیو ملاتړ او پیاوړتیا.
2. د زده کړو، کار موندنې، قانوني او مهاجرتي چارو کې مرسته.
3. د افغان کلتور او دودونو خوندي کول او ژوندي ساتل.
4. هغو کورنیو ته مالي او معنوي مرسته رسول چې اړتیا لري (د اړتیا ټاکنه د ټولنې د مشرتابه او قومي مخورو په مشوره ترسره کېږي).
5. د کلتوري او تعلیمي پروګرامونو تنظیمول.

✅ دریمه ماده: غړیتوب

۱- برخه: د غړیتوب شرایط
هر افغان یا د افغان ټولنې دوست چې په اوکلاهوما کې اوسیږي او د ټولنې له هدفونو ملاتړ کوي، د غړیتوب حق لري.

۲- برخه: د غړو حقونه

- د ټولنې د مشرتابه هیأت په ټاکلو کې رایه ورکول.
- د ټولنې په پروګرامونو کې ګډون کول.
- په کمیټو کې ګډون کول.

✅ څلورمه ماده: د مشرتابه بورډ

۱- برخه: جوړښت

د مشرتابه بورډ به له لاندې جوړښتونو جوړ وي:

- رئيس
- مرستيال رئيس(ان)
- د خزانې مشر
- د خزانې مرستيال(ان)
- وياند(ان)
- د کمیټو مشران

۲- برخه: د دندو تشريح

- رئيس: د غونډو مشري کوي، د ټولنې استازيتوب کوي، ټول فعاليتونه څاري.
- مرستيال رئيس(ان): له رئيس سره مرسته کوي، د رئيس په غياب کې مسؤليت پر غاړه اخلي.
- د خزانې مشر: مالي اسناد ساتي، بانکي حسابونه اداره کوي، راپورونه برابروي.
- وياند(ان): د ټولنې رسنيزې اړيکې او پيغامونه سمبالوي.

۳- برخه: د خدمت موده

- هره دنده به د يو کال مودې لپاره وي.
- غړي کولای شي د پرله‌پسې دورو لپاره بيا وټاکل شي.

✅ پنځمه ماده: کميټې

ټولنه به لاندې کميټې ولري:

- د زده کړو کميټه
- د کارموندنې کميټه
- د کلتوري چارو کميټه
- د ټولنيز ملاتړ کميټه

هره کميټه به معلوم غړي ولري:

- مشر چې د بورډ لخوا ټاکل کيږي.

- لږ تر لږه یو بل غړی.

✅ شپږمه ماده: غونډې

۱- برخه: عمومي غونډې
ټولنه به په کال کې کم تر کمه دوې عمومي غونډې ترسره کوي.

۲- برخه: د مشرتابه غونډې
د مشرتابه بورډ غړي به کم تر کمه د کال په هره ربع کې یا د اړتیا سره سم غونډې کوي.

۳- برخه: اکثریت
د مشرتابه بورډ اکثریت به د پرېکړو لپاره کافي وي.

✅ اوومه ماده: مالي چارې او اصول یې

- ټولنه به په خپل نوم بانکي حساب ولري.
- ټولې پیسې به یوازې د دې اساسنامې د هدفونو لپاره کارول کیږي.
- له بانکي اوکاونټ څخه له ۵۰۰ ډالرو زیات لګښت لپاره د مشرتابه د دوو لاسلیکونو اجازه اړینه ده.

✅ اتمه ماده: د مرستې ورکېدل

له ټولنې څخه د مرستې ترلاسه کولو لپاره باید د مرستې اخیستونکی کم تر کمه یوه میاشت (۳۰ ورځې) د غړیتوب مخینه ولري.

✅ نهمه ماده: تعدیلات

په دې اساسنامه کې بدلون یوازې د مشرتابه بورډ د دریو پر دوو رایو اکثریت او د قومي مشرانو په مشورې سره کېدی شي.

✅ لسمه ماده: منحل کېدل

که ټولنه منحل شي، پاتې شتمنۍ به ورته یوې غیر سیاسي موسسې ته ورکړل شي چې ورته هدفونه ولري.